مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۰۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (شپږ څلویښتمه برخه)

## کریم شاه

په ۱۹۱۹ز کال کې زېږېدلی دئ. له لیسي څخه فارغ سوی او وروسته ئې د نقاشۍ له دوه وو مشهورو هنرمندانو څخه د نقاشۍ هنر زده کړ. تخصص ئې د ژوبو او څاروېو د انځورونو په کښلو کې ده. یو شمېر جوایز ئې ګټلي دي. د هنر د اکادیمیک او ریالیستیک سبک پیرو او د پوهاند برشنا تر اغیز لاندې دئ. کریم شاه د ملالۍ په لیسې کې د ډېرو کلونو لپاره د نقاشۍ او رسامۍ تدریس کړی دئ او اوس متقاعد دئ.

## غلام علي کریمي

د کندهار د پخواني والي عبدالکریم زوی په ۱۹۱۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ عبدالکریم د کندهار د بارکزي خان علوم له اعقابو څخه او د واحد کریمي اکا دئ. غلام علي کریمي په ۱۹۳۷ز کال کې د حبیبیې له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې د الا باما د تالیګا کالج [1] ته تللی دئ. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۹ز کال پورې ئې د ایلي نویز په پوهنتون کې اصلي رشته په اقتصاد کې ولوستله. په ۱۹۵۰ز کال کې ئې لیسانس په اقتصاد کې د جورج واشنګټن له پوهنتون څخه واخیست. په ۱۹۵۹ز کال کې ئې خپله ماسټري د «پوهنتون د اداري په رشته کې» د کولمبیا د پوهنتون د تیچر له کالج څخه واخیسته. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د افغان انسایکلوپیدیا کارمند. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د کابل پوهنتون د تعلیم او تربیې او د نشراتو عمومي. مدیر. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په بیروت کې فرهنګي اتشه. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د کابل پوهنتون د محصلینو د چارو مرستیال رئیس. په ۱۹۶۷ز کال کې د ستري محکمې قاضي. په ۱۹۷۳ز کال کې د عدلیې د وزارت د قضائیه څانګې اداري مشر. په ۱۹۷۳ز کال کې د قضائیه قوې د عالي شورۍ غړی. په ۱۹۷۴ز کال کې د حج د مراسمو د اداء کولو پر مهال وفات سو او په سعودي عربستان کې خاورو ته وسپارل سو. له مېرمن راضیې سره ئې واده کړی او یو زوی او څلور لوڼې ئې درلودې.

## ببرک کارمل

د پکتیا د ولایت د پخواني والي د تورن جنرال محمد حسین زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ محمد حسین : د پکتیا د ولایت پخواني والي وو چې د غلزیو د ملا خیلو په قبیلې پورې اړه لري او د کابل په ختیځ کې د کمریو

---

[1] -Talladega College, Alabama


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کلي کې له مېشت کېدلو سره سم دري ژبې سوی دئ، پلار ئې خپل زوی ته د ببرک یعنی د پړانګ د بچي په معنی نوم غوره کړ چې په پښتو کې د زړورتیا سمبول دئ. ببرک په ۱۹۴۸ز کال کې د اماني «نجات» له لیسې څخه فارغ سوی دئ.

په ۱۹۵۰ز کال کې د پوهنتون د محصلینو په اتحادیې کې د خپلې ونډې له کبله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ته ونـهٔ منل سو. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ته تر زنداني کېدلو پورې لاړ.[2] ویل کېږي چې په لومړی کې یو لیبرال دیموکرات فعال وو چې وروسته مارکسیست سو. د ۱۹۵۴ز کال په شاو خوا کې ئـې د کارمل تخلص غوره کړ چې د «کارګر د ملګري په معنی دئ». په ۱۹۵۶ز کال کې د محمد داؤود له پلوه آزاد سو او د انګلیسي او جرمني ژبو د ژباړونکي په توګه ئـې کار وکړ؛ او په ۱۹۵۷ز کال کې د پوځي احتیاط ښوونځي ته د مکلفیت د دورې د تېرولو لپاره پوځي زده کړو ته لاړ. په ۱۹۶۰ز کال کې د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۶۱ز کال کې د معارف د وزارت د تألیف او ترجمې د ریاست غړی سو. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د پلان د وزارت مأمور سو او په همدې مودې کې له سیاسي اړخه فعاله سوی وو. په ۱۹۶۵ او ۱۹۶۹ز کلونو کې ولسي جرګې ته وټاکل سو او تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل د ولسي جرګې غړی وو. په ۱۹۷۴ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د بنسټ ایښودونکي غونډې غړی سو. دغه کال ۱۹۶۴ز کال دئ او دلته په انګلیسي متن کې تایپي تېروتـنه سوې ده - ژ، همدا شان د مرکزي کمیټې د غړي او د مرکزي کمیټې د سکرتر په توګه وټاکل سو. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۷ز کال پورې ئـې د پرچم د ډلې مشري وکړه چې په ۱۹۷۷ز کال کې د خلقیانو له فرکسیون سره ئـې وحدت وکړ. په ۱۹۷۷ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو او د سکرتریت یا دارالانشاء غړی سو. په ۱۹۷۸ز کال کې د میر محمد اکبر خیبر له مرګ وروسته زنداني سو خو د غوایي د انقلاب په پایلې کې له زندانه خوشې سو. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په میاشت کې د انقلابي شورى د مرستیال او د افغانستان د مرستیال صدراعظم په توګه وټاکل سو. د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کې چکوسلواکیا کې د سفیر په توګه مقرر سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې له کاره وشړل سو او د انقلابي حکومت پر ضد د توطـئـو په جوړولو تورن سو. د ګوند له غړیتوب او له خپلو ټولو مقاماتو څخه محروم وګرځول سو. د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر د میاشتې په ۲۷ نـېټې کابل ته راغی او د حفیظ الله امین ځایناستی سو. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۶ز کال پورې ولسمشر او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند عمومي منشي. په ۱۹۸۲ز کال کې ئـې ځای سلطان علي کشتمند د صدراعظم په توګه ونیوهٔ. ببرک کارمل د خلق او پرچم په جرایدو او نورو کې مقالات لیکلي دي. وادهٔ ئـې کړی او ځلور ماشومان لري.

## محبوبه کارمل

د ببرک کارمل مېرمن او د خپل خاوند په شان د کمري د کلي او د قبیلي په شان ده. په ۱۹۶۹ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه فارغه سوې ده. په ۱۹۸۰ز کال کې د «وطن پالنځي/ پرورشګاه»[3] رئیسه.

---

[2] - Attended College of Law and Political Science from 1951 to 1953, when he was imprisoned.

[3] -Watan Nursery



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد فاروق کارمند

د معارف د وزارت د ساختماني رياست رئيس. د مرکزي کمېټې د اجتماعي علومو د انستيتيوت رئيس. د کابل ولايت د ګوندي کمېټې منشي. د مرکزي کمېټې غړی. په ۱۹۸۳ز کال کې د مرکزي زون آمر. د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې منشي.

## مير صاحب کاروال

د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر په مياشت کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې منشي. د سياسي بيرو علی البدل غړی.

## عبدالاحد کرزی

د خير محمد کرزي زوی په ۱۹۲۵ز کال کې د کندهار په کرز کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. د خپل پلار ځای ناستی سو او د کندهار، هلمند او روزګان د پلوپلزيو درانيو مشري ئې واخيسته. د ولس د استازو کور (ولسي جرګې ته) د کندهار استازی. تر ۱۹۶۳ز کال پورې په کندهار کې علاقه دار وو. په ۱۹۶۴ز کال کې د کندهار د سوداګرۍ د بورد رئيس. په ۱۹۶۴ز کال کې د لويې جرګې غړی. د اساسي قانون د تصويب د کميټې غړی. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ولسي جرګې غړی. د ولسي جرګې وياند (نائب رئيس). د داؤود پرمهال ئې کومه حکومتي دنده نـهٔ درلوده. له خپل ورور خليل کرزي سره (چې وروسته د ۱۹۷۸ او ۱۹۸۰ز کلونو تر منځ په کويټې کې ووژل سو) يو ځای زنداني سو. سعودي عربستان ته د حج د مراسمو د ترسره کولو لپاره لاړ او بېرته پاکستان ته راستون سو چې تر اوسه په پاکستان کې ژوند کوي.

## حبيب الله کرزی

د پوپلزيو د قبيلې د مشر سناتور خير محمد کرزي زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په کور او د حبيبيې په ليسې کې کړې دي. په ۱۹۵۶ز کال کې ئې د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې تحصيل وکړ. د باندنيو چارو په وزارت کې لوړپوړی مقام د هند او پاکستان د چارو متخصص او له ايران سره د هلمند د اوبو د شخړو متخصص. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په ملګرو ملتونو کې وو. د پاکستان په کويټې کې د درانيو د مجاهدينو يو مشر.

## خليل الله کرزی

د پوپلزيو د قبيلې د مشر خير محمد کرزي زوی په ۱۹۳۸ز کال کې د کندهار په کرز کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. په ۱۹۸۰ز کال کې کويټې ته لاړ او له مجاهدينو سره يو ځای سو. په ۱۹۸۳ز کال کې د يوهٔ خونړي غچ په کړس کې په کويټې کې ووژل سو.

## محمد اسحٰق کاشف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د میرزا محمد یوسف کابلي زوی په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. زده کړې په دودیزو رشتو او محاسبې کې کړې او بیا ئـې د مزار په مستوفیت کې کار وکړ. د مزار د تدارکاتو د مدیر په توګه وګومارل سو. [4] شاعر.

## عبدالحکیم کټوازی

د حاجي پهلوان زوی. د هند او ترکیې په پوځي ښوونځیو او اکاډیمیو کې ئـې تحصیلات کړي دي. د مرکزي ځواکونو د اوومې فرقې افسر. په ۱۹۶۵ز کال کې د پولیسو بولندوی او وروسته د کابل د ژاندارمرۍ بولندوی. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کورنیو چارو په وزارت کې د څلورو کالو لپاره د امنیتي ځواکونو بولندوی. د ۱۹۷۳ز کال د مارچ په میاشت کې د جنرال عبدالولي تر لاس لاندې د اوومې فرقې بولندوی. د ۱۹۷۳ز کال د جولای د میاشتې په شپاړسمې زنداني سو. وروسته له دې چې د کټوازو ۳۵ تنو قومي مشرانو د هغـهٔ په غیاب کې مداخله وکړه، له زندانه آزاد سو. تقاعد سو او تر اوسه په کابل کې ژوند کوي.

## حسین کټوازی

د حاجي پهلوان خان زوی په ۱۹۴۶ز کال کې د تخار په بیهارک کې زېږېدلی دئ ؛ ‹حاجي پهلوان : د سلیمانخیلو له محمود خیلو څخه دئ چې زنداني سو او وروسته په شمال کې مېشت سو.› حسین په وړدکو کې د لومړي ښـوونځي له زده کړو وروسته په ۱۹۵۸ز کال کې کابل ته راغی او په ۱۹۶۴ز کال کې د حـبیـبیې له لیسې څخه فارغ سو. د یوهٔ کال لپاره ئـې د کابل په پوهنتون کې اقتصاد ولوست او وروسته هندوستان ته لاړ او د «علیګړه د مسلمانانو» [5] له پوهنتون څخه ئـې خپل لیسانس په سیاسي علومو کې واخیست او ماستري ئـې د ‹دلهي د پوهنتون له هندو کالج› [6] څخه واخیسته. وئـې نـهٔ سوای کولی چې خپلو تحصیلاتو ته دوام ورکړي یا د باندنیو چارو په وزارت کې کار ومومي، نو پر ځای ئـې په ۱۹۷۱ز کال کې د کابل په انترکانتینـنټل هوټل کې کار ومونډ. د «میوند وال د اړیکو» [7] پر مهال د خپلې کورنۍ له نورو غړو سره یو ځای زنداني سو. د ۱۹۷۸ز کال د مارچ په میاشت کې له افغانستانه ووت او په ویانا، جاکارتا، کولمبو کې د انتر کانتننټل د هوټلو د ډایرکټر په توګه ئـې کار وکړ او همدا اوس د ‹هاوایي په ماوي› [8] کې کار کوي.

## خیال محمد کټوازی

د عبدالغفار زوی په ۱۹۴۸ز کال کې د پکتیا ولایت په ښرني – کټواز کې زېږېدلی دئ. په اووهٔ کلنۍ کې د علي بابا د ښوونځي په دریم ټولګي کې شامل سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې د رحمن بابا په لیسې کې شامل سوی او په ۱۹۷۰ز کال کې ئـې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو له پوهنځي څخه خپل تحصیلي سند په ژورنالیزم کې ترلاسه کړ. د راډیو افغانستان پرودیوسر سو. په ۱۹۷۲ز کال کې د عسکري د مکلفیت دوره ئـې بشپړه کړه. په ۱۹۷۳ز کال کې

---

[4] - Appointed, Director of Provisions, Mazar Command
زه ژباړونکی په دې برخې پوه نـهٔ سوم. دا برخه صرف تحت اللفظي ده.

[5] - Aligarah Muslim University : دلته په انګلیسي متن کې یوه ټایپي تېروتنه سوې ده چې Aligarah Mashim University لیکل سوی دی. – ژ

[6] -Hindu College, Delhi University

[7] -"Maiwandwal Affairs"

[8] -Maui Hawaii


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بېرته راډيو افغانستان ته راغی. د خلقيانو د بنسټ د پيل له ورځي خلقی دئ. دا خيال محمد کټوازی وو چي د وسله وال ځواک افسرانو ته ئـي د انقلاب په شپه د مسؤوليت د په غاړه اخيستلو پيغام ورساوهٔ. د غوايي له انقلاب وروسته د راډيو او تلويزيون مرستيال وزير سو. د ۱۹۷۹ز کال د اپريل په مياشت کي د اطلاعاتو او کلتور وزير سو. د مرکزي کمېټې او انقلابي شوری غړی سو. د تره کي په لاس روزل سوی دئ. د پخواني ولسمشر حفيظ الله امين له پرځېدلو وروسته له کاره وشړل سو او د پلچرخي زندان ته واچول سو. مورنی ژبه ئـي پښتو ده. وادهٔ ئـي کړی او يو زوی لري.

## داؤود کاوياني

په ۱۹۸۰ز کال کي د باختر خبري آژانس مرستيال رئـيس او وروسته ددې آژانس رئـيس. باختر آژانس د باختر نړی وال آژانس دولتي کمېټه[9]

## نجم الدين اختر کاوياني

په ۱۹۸۰ز کال کي د مرکزي کمېټې او انقلابي شوری غړی. د مرکزي سازمان د دفتر رئـيس[10]. د انقلابي شوری د رئـيسه هيئت غړی. د جبههٔ ملي پدر وطن مرستيال رئـيس. مورنی ژبه ئـي دري ده.

**عبدالقيوم :** وګورئ : عبدالقيوم

## نور بيا

**ډاکتر سيد عبدالله کاظم**

د مير محمد کاظم زوی، په ۱۹۴۲ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ؛ ( مير محمد کاظم : د ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[9] - State Committee of Bakhtar International Agency
[10] -President, Central Organization Office


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ